PS

د کډوالو او بې‌تابعیته کسانو
عمومي کمیسارۍ

The Office of the Commissioner General for
Refugees and Stateless Persons (CGVS-CGRA)

تاسو په بلجیم کې له فرعي خوندیتوب څخه برخمن یاست

ستاسو حقونه او مکلفیتونه

.be

دغه بروشر او د هغې ټولې ژبني نسخې د
CGVS په ویب پاڼې کې شتون لري
www.cgrs.be/en/publications

چاپونکی

د کډوالو او بې‌تابعیته کسانو عمومي کمیسارۍ
(CGVS)

Ernest Blerotstraat 39
1070 BRUSSELS

02 205 51 11

cgvs.info@ibz.fgov.be

www.cgrs.be

وروستۍ بیاکتنه
مارچ ۲۰۲۶

محتوا

سریزه 5

1. په بلجیم کې استوګنه 6

1.1 د اوسېدو سند 6

1.2. د بلجیم قانون ته درناوی وکړئ 6

1.3. د فرعي محافظتي حالت څخه په داوطلبانه ډول تېرېدنه 6

1.4. د فرعي محافظت حالت لغوه کول یا بیرته اخیستل 7

1.4.1د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) د فرعي محافظت حالت لغوه کوي. 7

1.4.2 د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) د فرعي محافظت حالت بیرته اخلي. 7

1.5 د بلجیم تابعیت ترلاسه کول 8

1.5.1 د تابعیت اعلامیه 8

1.5.2 تابعیت ورکول 8

2. د مدني حالت اسناد 9

3. د کورنۍ د غړو لپاره استوګنه 9

3.1. ستاسو ماشومان 9

3.2 د کورنۍ یوځای کېدل 9

3.2.1 د کورنۍ اړیکي بیا رغول 11

3.3 بهر ته سفر کول 11

۳.۳.۱ په بهر کي اوږده استوګنه او بلجیم ته بېرته ستنېدل 12

4 کار کول 13

4.1 هغه کارمند چې د کار قرارداد لري 13

4.2 خپلواک کارکوونکی 13

4.3 د کار لټول 13

5 زده کړه 14

5.1 د ماشومانو ښوونځی 14

5.1.1 د ښوونځي ژبه: هالنډي، فرانسوي یا جرمني 14

5.1.2 د ښوونځي لګښتونه 14

5.1.3 د وړکتون زده کړه (له ۲.۵ تر ۵ کلونو پورې) 15

5.1.4 لومړنۍ زده کړه (له ۶ تر ۱۱ کلونو پورې) 15

5.1.5 ثانوي زده کړه (له ۱۲ تر ۱۸ کلونو پورې) 15

5.1.6 ځانګړې زده کړه (بهرنۍ/استثنایي ښوونځی) 15

5.1.7 لوړې زده کړې 16

5.1.8 د بهرنیو ژبو زده کوونکو لپاره د چمتووالي کال 16

5.1.9 لګښتونه 16

5.2 د ډیپلوم پېژندنه 17

5.2.1 خپل ډیپلوم په فلاندر کې پیژندل 17
5.2.2 څنګه خپل ډیپلوم معادل کړی؟ 17
5.2.3 اسناد؟ 18
5.2.4 لګښتونه؟ 18
5.2.5 د خپل ډیپلوم پیژندنه په والونیا یا بروکسل کې 18
6 ټولنیز امنیت (سوشیال سیکیورټي) او ټولنیزه مرسته 19
6.1 د OCMW ټولنیزه مرسته (ټولنیز کور) 19
6.2 څوک د OCMW له خوا ټولنیزه مرسته ترلاسه کوي؟ 19
7 روغتیا پالنه 20
7.1 د ناروغۍ بیمه 20
7.2 د ماشومانو روغتیا 21
8 استوګنځی 21
9 ادغام 23
9.1 د ادغام کورس 23
9.2. د ژبې درسونه 24
10 د بې سرپرسته کمعمره بهرنیو ماشومانو ځانګړي حقونه 24

سریزه

قدرمند ښاغلي، میرمني،

د کډوالو او بې تابعیتو کسانو عمومي کمیساری تاسو ته د فرعي ساتنې حالت درکړی دی. دا وضعیت تاسو ته ډېر حقوق درکوي، خو ورسره ځینې مسؤلیتونه هم ترلې دي.

بې له شکه تاسو په بلجیم کې د یو 'محفوظ کس' په توګه د خپل راتلونکي په اړه پوښتنې لرئ. تاسی به په راتلونکو پانو کې ځوابونه ومومئ. تاسی به په راتلونکو پانو کې ډیر معلومات ومومئ چې هیله ده ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایی. د شک په صورت کې، د لاندې ذکر شوي خدماتو سره اړیکه نیولو څخه ډډه مه کوئ.

دا بروشر اساسي معلومات وړاندې کوي. د ټولو جزئیاتو او لنډیزونو پوښښ ناممکن دی. که تاسو د خپلو حقونو او مکلفیتونو په ساتلو کې ستونزې تجربه کوئ، نو د وکیل، قانوني خدماتو، یا د بروشر په ضمیمه کې لیست شوي خدماتو څخه یوه سره اړیکه ونیسئ.

تاسو کولی شئ د بلجیم د تابعیت او هویت اسنادو د ترلاسه کولو په اړه د پوښتنو لپاره له خپلې ښاروالۍ سره اړیکه ونیسئ، یا د ټولنیزو مسلو (مدغم کیدل...) یا د بدیل عاید په اړه د پوښتنو لپاره د خپلې ښاروالۍ د ټولنیزې هوساینې عامه مرکز (OCMW) سره اړیکه ونیسئ. د بهرنیو اتباعو دفتر کولی شي تاسو ته د ویزې، د استوګنې جواز، او د کورنۍ بیا یوځای کیدو په اړه معلومات درکړي

د کډوالو او بې وطنه اشخاصو لپاره د کمشنرۍ خدمتونه هم ستاسو په اختیار کې دي ترڅو ستاسو پوښتنو ته تر ممکنه حده ځواب ووایی.

زه تاسو ته د بلجیم په ټولنه کې د امکان تر حده د ښه ادغام هیله کوم

د کډوالو او بې وطنه کسانو لپاره د کمیساری عمومي ریسه

Sophie Van Balberghe

1. په بلجيم کې استوګنه

1.1 د اوسېدو سند

تاسو د کډوالو او بې وطنه کسانو لپاره د کمیساری لخوا د فرعي خوندیتوب حیثیت ورکولو پریکړه درکړل شوې ده.

دا تاسو ته اجازه درکوي چې په پیل کې د محدودې مودې لپاره په بلجیم کې پاتې شئ. تاسو باید د فرعي محافظت حیثیت ورکولو پریکړه د خپل استوګنځي ښاروالۍ اداري ته ورکړئ. ستاسو د استوګنځي ښاروالۍ به تاسو د بهرنیو اتباعو په راجستر کې ثبت کړي. تاسو به د هویت سند ترلاسه کړئ

یو الکترونیکي (A) کارت دا د بهرنیانو په راجستر کې د ثبتیدو ثبوت دی - لنډمهاله استوګنه

A بربېنایي کارت د یو کال لپاره اعتبار لري او د ښاروالۍ لخوا دوه ځله، د دوو کلونو لپاره، د (DVZ) له مخکینۍ لاربښوونې پرته، نوي کیدای شي. د کارت د نوي کولو غوښتنلیک باید د کارت د اعتبار مودې له پای ته رسیدو څخه ۳۰ څخه تر ۴۵ ورځو پورې د اصلي استوګنځای ښاروالۍ ته وسپارل شي.

د پنځو کلونو وروسته، له هغه وخت څخه چې د نړیوالې ساتنې غوښتنه مو وکړه او فرعي ساتنه مو ترلاسه کړه (ضمیمه ۲۵ یا ۲۶ د ورکړې له نیټې څخه) تاسو په عمومي توګه د نامحدود وخت لپاره د پاتې کېدو اجازه ترلاسه کوئ.

د(B) کارت لپاره (لامحدود استوګنې) لپاره غوښتنلیک باید د اصلي استوګنې ځای ښاروالۍ ته وسپارل. د (B)کارت لاسته راوړلو لپاره تل د مهاجرت دفتر څخه مخکې له مخکې لاربښوونې ته اړتیا لري.

د خپل هویت سند د ورکیدو په صورت کې، پولیسو ته راپور ورکړئ.

1.2. د بلجیم قانون ته درناوی وکړئ

د بلجیم قانون ستاسو د ژوند په ډیرې اړخونو کې په بلجیم کې پلي کیږي. په هرصورت، ستاسو د اصلي هیواد ځینې قوانین (د هغه هیواد قوانین چې تاسو یې تابعیت لرئ) لاهم پلي کیږي، په ځانګړې توګه ستاسو د 'شخصي حالت' په اړه.

(د مثال په توګه، بلوغیت ، په بلجیم کې د واده د اعتبار اړتیاوې)

1.3. د فرعي محافظتي حالت څخه په داوطلبانه ډول تېرېدنه

تاسو کولی شئ هر وخت د فرعي محافظت له حالت څخه په خپله خوښه تېر شئ. دا پدې معنی ده چې د کډوالو چارو اداره (DVZ) کولای شي ستاسو د استوګنې حق پای ته ورسوي.

کړنلاره:

تاسو باید د پیژندل شویو کډوالو او بې وطنه کسانو لپاره (CGVS) د مرستې دفتر کې په شخصي توګه نوم لیکنه وکړئ

د مرستې دفتر ته یوازې د ملاقات نیولو له لارې لاسرسی موندی شي.

- تاسو کولی شئ د ملاقات وخت ونیسئ:
- د بریښنالیک له لارې: cgrefugees@ibz.fgov.be.
- د پوستې له لارې (CGVS - د پیژندل شویو کډوالو او بې تابعیته اشخاصو لپاره د مرستې ډیسک، ارنسټ بلرویټسټرات 39، 1070 بروسلز

- د تلیفون له لارې: 02 205 53 07 (هره کاري ورځ له 9:00 څخه تر 12:00 او له 13:00 څخه تر 16:00 پورې)
- تاسو د خپل پېژندپاڼې سره مراجعه کوئ.
- تاسو یو بیان لاسلیک کوئ چې پکې تاسو له خپل حالت څخه ټېرېږئ. تاسو د «د حالت د پرېښودو تصدیق» ترلاسه کوئ.
- . وروسته تاسو د همدې تصدیق سره بنارواليۍ ته ځئ

پایلې: بنارواليۍ کولای شي،(د DVZ) په غوښتنه، ستاسو د استوګنې کارت لغوه کړي یا یې نور تمدید نه کړي تاسو کولی شئ د خپل ملي پاسپورټ په وسیله خپل اصلي هېواد ته سفر وکړئ.

1.4. د فرعي محافظت حالت لغوه کول یا بیرته اخیستل

کله چې نوي عناصر یا حقایق مخې ته راشي چې د فرعي محافظت د حالت د اعتبار بیا ارزونه پکې اړینه کړي، د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) څېړي چې ایا دا حالت لغوه یا بیرته واخیستل شی

د محافظتي حالت د اعتبار بیاکتنه د کډوالو او بېوطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) له خوا د وزیر یا د هغه د استازي په غوښتنه هم ترسره کېدای شي.

1.4.1د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) د فرعي محافظت حالت لغوه کوي٠

د لغوه کولو پرېکړه ورکړل شوي حالت پای ته رسوي. که هغه شرایط چې د دغه حالت د ورکولو سبب شوي وو بدل شي، نو نور د محافظت اړتیا نه پاتې کېږي (د ببلګې په توګه ستاسو په اصلي هېواد کې د مهمو او دوامداره بدلونونو په صورت کې).

په دې حالت کې د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) کولای شي تاسو ته د شخصي مرکې لپاره بلنه درکړي. د دې مرکې په جریان کې تاسو کولی شئ ټول هغه دلایل بیان کړئ چې ولې غواړئ د فرعي محافظت حالت وساتل شي. (CGVS) کولای شي له تاسو څخه دا هم وغواړي چې د خپل حالت د ساتلو دلایل په لیکلي ډول وروليږئ.

د فرعي محافظت حالت د لغوه کولو د پرېکړې پر ضد د (بهرنیانو چارو د شخړو شورا) ته د بشپړ صلاحیت لرونکي استیناف

امکان شته.

د فرعي محافظت حالت د لغوه کولو په صورت کې، د کډوالو چارو اداره (DVZ) کولای شي د هېواد پرېښودو امر درکړي او په دې توګه د استوګنې حق پای ته ورسوي.

1.4.2 د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) د فرعي محافظت حالت بیرته اخلي.

د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) د محافظتي حالت د لغوه کولو پرېکړه هغه وخت کوي چې دا حالت په اصل کې هېڅکله باید نه وای ورکړل شوی.

- که تاسو باید د فرعي محافظت له حالت څخه مستثنا شوي وای.
- که تاسو د ټولنې یا ملي امنیت لپاره خطر جوړوئ.
- که د دغه حالت ورکول د ناسم یا دوکه کوونکو معلوماتو، جعلي یا تقلب شوو اسنادو پر بنسټ ترسره شوي وي.
- که ستاسو شخصي چلند د فرعي محافظت حالت له ترلاسه کولو وروسته دا وښيي چې تاسو نور د جدي زیان له واقعي خطر سره مخ نه یاست.

- که تاسو یو یا څو جرمونه ترسره کړي وي چې د ځانګړو استثنایي بندونو تر پوښښ لاندې نه راځي، او که دغه جرمونه په بلجیم کې ترسره شوي وای نو د بند سزا به یې درلوده، او تاسو یوازې د خپل اصلي هېواد څخه د خپلې سزا د تېښتې لپاره وتلي یاست.

کله چې د استوګنې حالت د لغوه کولو پرېکړه تر غور لاندې وي، د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) تاسو د شخصي مرکې لپاره رابولي. د دې مرکې په جریان کې تاسو ته فرصت درکول کېږي چې هغه دلایل وړاندې کړئ چې ولې باید ستاسو د استوګنې حالت وساتل شي.

د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساریت (CGVS) کولای شي له تاسو څخه دا هم وغواړي چې په لیکلي ډول هغه دلایل وروړاندې کړئ چې ولې باید ستاسو د استوګنې حالت وساتل شي، په هغه صورت کې چې د لغوه کولو پرېکړه د دې له امله تر غور لاندې وي چې تاسو باید له فرعي محافظت څخه مستثنا شوي وای یا باید مستثنا شی.

د فرعي محافظت حالت د لغوه کولو د پرېکړې پر ضد، د (بهرنیانو د شخړو چارو شورا) ته د بشپړ صلاحیت لرونکي استیناف وړاندې کول ممکن دي.

وزیر یا د هغه استازی به د هېواد پرېښودو د امر د صادرولو پر مهال د کورنۍ اړیکو نوعیت او پیاوړتیا، په بلجیم کې د استوګنې موده، او له اصلي هېواد سره د کورنۍ اړیکو یا کلتوري او ټولنیزو اړیکو شتون په پام کې نیسي.

1.5 د بلجیم تابعیت ترلاسه کول

د بلجیم تابعیت د ترلاسه کولو لپاره دوه پروسیجرونه وجود لری. د تابعیت اعلامیه او تابعیت ورکول.:

که تاسو د بلجیم تابعیت ترلاسه کړئ، نو د فرعي محافظت حالت له لاسه ورکوئ.

تاسو باید د بلجیم تابعیت د غوښتنې د وړاندې کولو لپاره د دایمی مودی استوګنې اجازه ولرئ.

1.5.1 د تابعیت اعلامیه

د تابعیت د اعلان له لارې د بلجیم تابعیت د ترلاسه کولو شرایط دومره پراخ دي چې په دې بروشر کې یې یادول ممکن نه دي.

تاسو کولای شئ دا شرایط د د قانون په متن کې وموميئ. د فدرال حکومت عدلیې خدماتو په ویبپاڼه کې.

https://justitie.belgium.be/nl/themas_en_dossiers/personen_en_gezinnen/nationaliteit/belg_worden/verklaring_tot_verkrijging

تاسو د تابعیت اعلان د هغه ښاروالۍ د مدني حالت د ثبت مامور ته وړاندې کوئ چې تاسو پکې اوسېږئ. دغه مامور به تاسو ته د ټولو اړینو اسنادو په اړه بشپړ معلومات درکړي چې د خپل دوسیې د بشپړولو لپاره یې باید وړاندې کړئ.

د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساری (CGVS) تاسو ته د زېږون سند نه شي درکولی.

د خپل هېواد له سفارت سره اړیکه ونیسئ، یا که دا ممکن نه وي، د خپل اوسېدو ځای له صلاحیت محکمې سره اړیکه ونیسئ ترڅو د پېژندګلوی سند درته صادر کړي.

1.5.2 تابعیت ورکول

شرایط

تاسو باید:

۱. لږ تر لږه ۱۸ کلن اوسئ؛
۲. په بلجیم کې په قانوني ډول اوسېدل؛
۳. په علمي، سپورتي یا ټولنیز-کلتوري ډګر کې د «استثنایي لاسته راوړنو» ثبوت وړاندې کول؛

۴. دا ثابتول چې ستاسو لپاره د تابعیت اعلان (nationaliteitsverklaring) له لارې د بلجیم تابعیت ترلاسه کول تقریباً ناممکن دي.

د هغه ښاروالۍ د مدني حالت د ثبت مامور ته مراجعه وکړئ چې تاسو پکې اوسېږئ.

د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساریت (CGVS) تاسو ته د زېږون سند نه شي درکولی. د خپل هېواد له سفارت سره اړیکه ونیسئ، یا که دا ممکن نه وي، د خپل د اوسېدو ځای له صلحې محکمې سره اړیکه ونیسئ تر څو د پېژندګلوی سند درته صادر کړي.

په دې اړه نور معلومات د فدرال حکومت د عدلیې چارو خدماتو په ویب پاڼه کې موندلای شئ.

https://justitie.belgium.be/nl/themas_en_dossiers/personen_en_gezinnen/nationaliteit/belg_worden/naturalisatie

2. د مدني حالت اسناد

د کډوالو او بې وطنه کسانو عمومي کمېساریت (CGVS) د دې صلاحیت نه لري چې د مدني حالت اسناد (لکه د زېږون سند، د واده سند) هغو کسانو ته ورکړي چې د فرعي محافظت حالت لري. تاسو باید د دې لپاره خپل سفارت سره اړیکه ونیسئ.

د ځینو پروسیجرونو (لکه واده او تابعت ترلاسه کولو) لپاره، د «پېژندګلوی سند کولای شي د زېږون سند ځای ونیسي. تاسو کولی شئ دغه د پېژندګلوی سند د خپل اوسېدو ځای د صلحې محکمې قاضي څخه وغواړی.

3. د کورنۍ د غړو لپاره استوګنه

3.1. ستاسو ماشومان

ستاسو هغه ماشومان چې له تاسو سره یو ځای راغلي دي، د فرعي محافظت له حالت څخه برخمن کېږي که چېرې تاسو له هغوی سره یو ځای د پناه غوښتنه کړې وي. ماشومان باید ستاسو په ضمیمه ۲۵ یا ۲۶ کې درج شوي وي، هغه اسناد چې تاسو د کډوالو چارو اداري (DVZ) څخه د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې د ثبت پر مهال ترلاسه کړي دي.

ستاسو هغه ماشومان چې په بلجیم کې د فرعي محافظت حالت له ورکولو وروسته زیږېدلي وي، باید د زېږون سند په وړاندې کولو سره د ښاروالۍ له خوا د بهرنیانو په ثبت کې ثبت شي.

که تاسو غواړئ چې ستاسو هغه ماشومان چې په بلجیم کې د فرعي محافظت حالت له ترلاسه کولو وروسته زیږېدلي دي هم همدا محافظتي حالت ترلاسه کړي، نو هغوی باید د نړیوال خوندیتوب لپاره خپله جلا غوښتنه وړاندې کړي.

هغه ماشومان چې بلجیم ته د فرعي محافظت حالت له ورکولو وروسته راغلي وي، باید د کډوالو چارو اداري (DVZ) ته مراجعه وکړي. تاسو باید له خپل ماشوم سره یو ځای د کډوالو چارو اداري ودانۍ ته ولاړ شئ (دا کار د دوشنبې څخه تر جمعې پورې، د رخصتیو پرته، په لاندې پته کې ترسره کېږي: 68 Belliardstraat, 1000 ((Brussels, at 08:30 AM

هلته تاسو د ماشوم په استازیتوب د نړیوال خوندیتوب غوښتنه وړاندې کوئ. دا مهمه ده چې د خپل ماشوم او خپلې دوسیې ټول اړوند اسناد له ځان سره راوړئ.

3.2 د کورنۍ یوځای کېدل

که په بلجیم کې د فرعي خوندیتوب لرونکی یاست، نو ستاسو ځینې نږدې د کورنۍ غړي کولی شي د کورنۍ د یوځای کېدو د پروسې له لارې په بلجیم کې د استوګنې حق ترلاسه کړي.

کله چې دغه نړۍ د کورنۍ غړي په بلجیم کې نه اوسیږي، دوی کولی شي د هغه هېواد د بلجیم د دیپلوماتیک یا قونسلګرۍ دفتر له لارې چېرته چې اوسیږي، د کورنۍ د یوځای کېدو ویزې غوښتنه وکړي.

کله چې دوی لا دمخه په بلجیم کې وي، نو دوی د خپلې استوګنې د ښارواڼۍ (ښاروال دفتر) کې د کورنۍ د یوځای کېدو پروسه پیلوي. (د بهرنیانو چارو اداره) غوښتنلیک ارزوي.

د ۲۰۲۵ کال د اګست له ۱۸ نېټې څخه د کورنۍ د یوځای کېدو د پروسې لپاره نوي قوانین پلي کېږي. دا قوانین د هغو کسانو پر ټاکنه هم اغېز لري چې تاسو یې د فرعي خوندیتوب لرونکي په توګه بلجیم ته راوستلی شئ.

- خو که لاندې شرایط پوره کړئ، نو بیا پخواني قانون دربارې تطبیق کېږي:
- که تاسو ته د فرعي خوندیتوب حالت د ۲۰۲۵ کال د اګست له ۱۸ نېټې مخکې درکړل شوی وي
- که تاسو خپله غوښتنه د ۲۰۲۷ کال د اګست له ۱۸ نېټې مخکې وسپارئ

د فرعي خوندیتوب لرونکو لپاره دا توپیر شته **چې د پرېکړې د نېټې له مخې**، تاسو کوم کسان د کورنۍ د یوځای کېدو له لارې بلجیم ته راوستلی شئ.

د فرعي خوندیتوب ورکول د ۲۰۲۵ کال د اګست له ۱۸ نېټې مخکې

کله چې تاسو بالغ یاست (۱۸ کاله یا زیات)

- ستاسو میړه/ښځه (تاسو باید مخکې له دې چې په بلجیم کې د نړیوالې ساتنې د پېژندنې غوښتنه وسپارئ، واده کړی وي)
  ستاسو کم‌عمره ماشومان (د ۱۸ کلونو څخه کم عمر لرونکي ماشومان)
  ستاسو بالغ ماشومان چې معلولیت ولري

کله چې تاسو بې سرپرسته کم‌عمره یا نابالغه یاست

- ستاسو مور او پلار
- ستاسو کم‌عمره ورونه او خویندې، او هغه بالغ ورونه او خویندې چې معلولیت لري، په دې شرط چې هغوی له ستاسو مور او پلار سره یوځای راشي.

د فرعي خوندیتوب ورکول د ۲۰۲۵ کال د اګست له ۱۸ نېټې څخه وروسته

- ستاسو میړه/ښځه (تاسو باید مخکې له دې چې په بلجیم کې د نړیوال خوندیتوب د پېژندنې غوښتنه وسپارئ واده کړی وي). د نوي قانون له مخې، تاسو دواړه باید لږ تر لږه ۲۱ کلن اوسی.
- ستاسو کم‌عمره ماشومان (هغه ماشومان چې تر ۱۸ کلونو کم عمر لري)
- ستاسو بالغ ماشومان چې معلولیت لري

د کورنۍ د یوځای کېدو غوښتنه یوازې د فرعي خوندیتوب له ورکړې څخه دوه کاله وروسته سپارل کېدای شي، مګر داچې تاسو غواړئ یوازې خپل کم‌عمره ماشومان بلجیم ته راوړئ.

کله چې تاسو بې سرپرسته کم‌عمره یاست

- نور د کورنۍ د یوځای کېدو حق نه لرئ.

ستاسو میړه/ښځه، ثبت شوی شریک/شریکه، یا ستاسو ماشومان او د ستاسو د میړه/ښځې یا شریک/شریکه ماشومان باید د عامې روغتیا، عامه نظم یا ملي امنیت لپاره خطر نه وي، او باید له تاسو سره په بلجیم کې د اوسېدو لپاره راشي.

سربېره پر دي، تاسو بايد څو نور شرايط هم پوره کړئ، چې پکې د کور (استوګنې ځای)، د روغتيا بيمه، او کافي، ثابت او منظم د ژوند د لګښت وسايل شامل دي. دا شرايط هر ځل توپير لري، د دې له مخې چې د کومو کورنۍ غړو لپاره او په کوم وخت کې د کورنۍ د يوځای کېدو غوښتنه کېږي.

غوره ده چې د کورنۍ د يوځای کېدو د پروسې د پيل لپاره له يوه وکيل سره اړيکه ونيسئ. ځينې اداري هم (لکه د سره صليب/Kruispuntbank د کورنۍ د اړيکو بيا رغونې خدمت يا د CAW د مهاجرت مشورتي مرکز) کولی شي تاسو ته د کورنۍ د يوځای کېدو د پروسې په اړه نور معلومات درکړي.

تاسو کولی شئ د بهرنيانو چارو اداري (Dienst Vreemdelingenzaken) او خپلې ښاروالۍ څخه هم د دې په اړه معلومات ترلاسه کړئ.

ستاسو د کورنۍ هغه غړي چې د کورنۍ د يوځای کېدو له لارې په بلجيم کې د استوګنې اجازه ترلاسه کوي، د پنځو کلونو لپاره محدود د استوګنې حق ترلاسه کوي. د پنځو کلونو وروسته، د استوګنې اجازه نامحدوده کېږي، په دې شرط چې د کورنۍ غړي لا هم د کورنۍ د يوځای کېدو اړوند شرايط ولري.

3.2.1 د کورنۍ اړيکې بيا رغول

د سره صليب د (Restoring Family Links) خدمت کولی شي تاسو سره مرسته وکړي چې د کورنۍ هغه غړي پيدا کړئ چې تاسو سره يې اړيکه له لاسه ورکړې وی. دا خدمت وړيا دی.

سربېره پر دي، هغه کسان چې په بلجيم کې د نړيوال خوندیتوب وضعيت لري، هم کولی شي د کورنۍ د يوځای کېدو د پروسې په اړه د پوښتنو لپاره د (Restoring Family Links) سره اړيکه ونيسي.

Rode Kruis-Vlaanderen Restoring Family Links
Motstraat 40
2800 Mechelen
015 44 35 22
E-mail: rfl@rodekruis.be
https://www.rodekruis.be/wat-doen-we/hulp-wereldwijd/opsporen-van-vermiste-personen/

Croix-Rouge de Belgique - Service Rétablissement des Liens Familiaux
Boulevard Ernest Mélot 42
5000 Namur
081 77 16 48
E-mail : service.rlf@croix-rouge.be
https://liens-familiaux.croix-rouge.be/

Adviescentrum Migratie (ACM) van het Centrum Algemeen Welzijnswerk (ACW)
Sint-Jacobsmarkt 39
2000 Antwerpen
03 235 34 05
E-Mail: adviescentrum.migratie@cawantwerpen.be
https://www.caw.be/locaties/adviescentrum-migratie-acm/

3.3 بهر ته سفر کول

تاسو حق لرئ چې بهر ته سفر وکړئ، خو که تاسو خپل اصلي هېواد ته بېرته ستنېږئ، نو دا خطر شته چې د فرعي خوندیتوب حالت مو له لاسه ورکړئ.

د خپل استوګنې د لومړيو ۵ کلونو په ترڅ کې تاسو بايد خپل اصلي هېواد ته هر سفر خبر د خپل استوګنې ښاروالۍ ته ورکړی

دا معلومات د بهرنيانو چارو ادارې (Dienst Vreemdelingenzaken) ته لېږدول کېږي.

کله چې تاسو بهر ته سفر کوئ، بايد تل له ځان سره معتبره برېښنايي د بهرنيانو کارت او پاسپورټ ولرئ. تل د هغو هېوادونو د سفارتونو او قونسلګريو څخه چې تاسو ورته سفر کوئ، د اړتيا وړ ويزو په اړه معلومات واخلئ (حتی د اروپايي ټولنې د غړي هېواد لپاره هم).

که تاسو پاسپورټ ونه لرئ يا يې ترلاسه کولای نه شئ، نو کولی شئ د ځانګړي سفر سند (د بهرنيانو لپاره) د هغه ښاروالۍ څخه وغواړئ چې تاسو پکې د نفوسو په ثبت کې راجستر ياست.

دا ځانګړی سفر سند يوازې هغه وخت درکول کېږي چې ستاسو هويت او تابعيت ثابت وي، او تاسو يو داسې سند ورواندې کړئ چې ښيي تاسو نشئ کولای ملي پاسپورټ يا د سفر رسمي سند ترلاسه کړئ.

تاسو کولی شئ د دې د نه امکان (سند) CKVS څخه د برېښناليک له لارې (CGRA-CGVS.Sub-Protection@ibz.be) Ernest Blerotstraat 39، 1070)
يا د ليک له لارې (Brussels) غوښتنه وکړئ.

دا سند بايد تر ټولو زيات ۱ مياشت زوړ وي. CGVS دا سند يوازې هغه وخت ورکوي چې د ستاسو د اصلي هېواد چارواکي په مستقيم ډول د هغه سخت زيان د خطر مسؤل وي چې ثابت شوی وي.

CGVS دا سند نه ورکوي که د ستاسو د اصلي هېواد عمومي امنيتي وضعيت د دې سبب شوی وي چې تاسو ته د فرعي خوندیتوب حالت درکړل شوی وي. دا حالت هغه وخت وي کله چې د دې خوندیتوب د ورکړې په پرېکړه کې د بهرنيانو د قانون د ۴/۴۸ 2،c مادې ته اشاره شوې وي

د نه امکان (attest van onmogelijkheid) سند اړين نه دی که تاسو د هغو بهرنيانو له ډلو څخه ياست چې د بلجيم د بهرنيو چارو وزارت (FOD Buitenlandse Zaken) يې داسې ګڼي چې هغوی نشي کولای ملي پاسپورټ يا د سفر اسناد ترلاسه کړي.

تبتيان او د فلسطيني اصليت لرونکي کسان اړتيا نه لري چې دا ډول سند ورواندې کړي، د پوښتنو لړليک وګورئ https://diplomatie.belgium.be/nl/voor-belgen-het-buitenland/het-belgisch-paspoort/reisdocument-voor-vluchtelingen-staatlozen

۳.۳.۱ په بهر کې اوږده استوګنه او بلجيم ته ببرته ستنېدل

که تاسو بلجيم د اعظمي ۳ مياشتو لپاره پرېږدئ، نو کوم ځانګړي مکلفيتونه نه لرئ. که تاسو د وتلو پر مهال د اعتبار وړ د استوګنې اجازه ولرئ، نو خپل د استوګنې حق له لاسه نه ورکوئ.

حتی که د ستاسو د استوګنې د اجازې اعتبار د ستاسو د نشتوالي په موده کې پای ته ورسيږي، بيا هم تاسو خپل د استوګنې حق له لاسه نه ورکوئ. د ستونزو د مخنيوي لپاره، تاسو بايد د خپلې استوګنې د اجازه مخکې له وخته د تمديد غوښتنه د ښاروالۍ څخه وکړئ.

که تاسو پلان لرئ چې د اوږدې مودې لپاره په بهر کې پاتې شئ، نو تاسو بلجيم ته د ببرته ستنېدو حق تر ۱ کال پورې د وتلو وروسته لرئ.

په دې حالت کې تاسو بايد ځينې اداري مکلفيتونه هم پوره کړئ :

د خپل وتلو مخکې، تاسو باید ښاروالۍ ته خبر ورکړئ چې د بلجیم پرېښودو او بېرته ستنېدو نیت لرئ. که اړتیا وي، تاسو باید د خپلې استوګنې د اجازې د تمدید غوښتنه وکړئ، څو د بېرته راتګ پر مهال مو د بهرنیانو کارت د اعتبار وړ وی

بلجیم ته له بېرته ستنېدو وروسته، تاسو باید د ۱۵ ورځو په موده کې له خپل معتبر د استوګنې اجازې سره ښاروالۍ کې ځان ثبت کړئ.

که تاسو د دې مکلفیتونو سره سم عمل وکړئ، ښاروالۍ به تاسو د نفوسو په راجستر کې بیا ثبت کړي.

4 کار کول

4.1 هغه کارمند چې د کار قرارداد لري

تاسو د کار د ترسره کولو لپاره د کار جواز یا د کار کارت ته اړتیا نه لرئ، که تاسو د مزدور په توګه (د کار د قرارداد له مخې) کار کوئ.

4.2 خپلواک کارکوونکی

که تاسو غواړئ د خپلواک کارکوونکي په توګه ځان ثبت کړئ (لکه سوداګر یا د یو شرکت استازی)، نو تاسو "مسلکي کارت" (beroepskaart) ته اړتیا لرئ، تر هغه وخته پورې چې تاسو د محدودی استوګنې په موده کې یاست (beroepskaart).

کله چې تاسو د نامحدود استوګنې حق ترلاسه کړئ (beroepskaart)، نو بیا د مسلکي کارت له اړتیا څخه معاف کېږئ.

د اقتصادي جوازونو خدمت د دغه "مسلکي کارت" (FOD Economie) ورکوي. د دې غوښتنه د هغه ښاروالۍ له لارې کېږي چې تاسو پکې اوسېږئ.

د خپل کار پورې اړوند حقونو او مکلفیتونو (لکه د روغتیا بیمه، د ماشومانو مرسته) په اړه معلومات د یوې ټولنیزې اداري، د

خپلې ښاروالۍ د OCMW یا د یوې کارګرۍ اتحادیې څخه ترلاسه کړئ.

همدارنګه د همدې ادارو څخه د دې امکان په اړه معلومات واخلئ چې که تاسو نور کار ونه لرئ، ایا د "بدیل عاید" (لکه د بېکارۍ معاش) ترلاسه کولای شئ که نه.

4.3 د کار لټول

تاسو باید په یوه د کار موندنې اداره کې نوم ثبت کړئ. د کار موندنې اداره کولی شي له تاسو سره په لاندې برخو کې مرسته وکړي:

- د داسې کار موندل چې ستاسو د وړتیاوو سره سم وي
- د مسلکي زده کړو یا انټرنشیپ (عملي روزنې) لټول
- د کار لپاره د هالنډي یا فرانسوي ژبې درسونو اخیستل
- ستاسو د سی وی ، د هڅونې لیک جوړول او د دندې د مرکې لپاره چمتووالی
- ستاسو د تجربې یا علاقې سره سم د دندو اعلانونه لټول

هره سيمه د کار موندنې خپله بېله اداره لري.

VDAB in Vlaanderen
T 0800 30 700
https://www.vdab.be/contact

ACTIRIS in Brussel
T 0800 35 123
https://www.actiris.brussels/nl/burgers/contact/

FOREM in Wallonië
T 0800 93 947
https://www.leforem.be/contact/index.html

ARBEITSAMT in de Duitstalige gemeenschap
T 080 27 02 00
https://adg.be/desktopdefault.aspx/tabid-5407/

5 زده کړه

5.1 د ماشومانو ښوونځی

په بلجیم کې هر ماشوم کولی شي ښوونځي ته لاړ شي، پرته له دې چې د هغه تابعیت یا د استوګنې حالت څه وي. په بلجیم کې ټول هغه ماشومان چې عمر یې له ۵ تر ۱۸ کلونو پورې وي، مکلف دي چې زده کړه وکړي. غیر بلجیمي ماشومان چې عمر یې له ۳ تر ۵ کلونو پورې وي، کولای شي په بلجیم کې د خپل راتګ له لومړۍ ورځې څخه ښوونځي ته لاړ شي. هغه ماشومان چې عمر یې له ۵ تر ۱۸ کلونو پورې وي، باید تر ټولو مخکې د ښاروالۍ له ثبت وروسته د ۲ میاشتو په موده کې په یوه ښوونځي کې شامل شي.

5.1.1 د ښوونځي ژبه: هالنډي، فرانسوي یا جرمني

کله چې ماشومان هالنډي یا فرانسوي ژبه نه شي کولای یا یې کمه پوهه لري، نو هغوی حق لري چې په ښوونځي کې ځانګړي تطبیقي درسونه واخلي: د استقبال زده کړه یا د (OKAN) ټولګي (د هغو زده کوونکو لپاره د استقبال ټولګي چې په بله ژبه خبرې کوي). کله چې دوی کافي اندازه د ژبې پوهه ترلاسه کړي، نو عادي ټولګي ته ځي.

که تاسو په فلاندرن (Vlaanderen) کې اوسېږئ، نو ستاسو ماشومان به په داسې ښوونځي کې زده کړه کوي چې درسونه به په هالنډي ژبه ورکوي. که تاسو په والونیا (Wallonië) کې اوسېږئ، نو ماشومان به په فرانسوي ژبه زده کړه کوي. که تاسو په بروکسل (Brussels) کې اوسېږئ، نو ستاسو ماشومان کولای شي په هالنډي یا فرانسوي ژبه ښوونځي ته ولاړ شي. که تاسو د ختیځو (Malmedy, Eupen en Sankt-Vith) کې اوسېږئ، نو ماشومان به په جرمني ژبه زده کړه کوي.

5.1.2 د ښوونځي لګښتونه

له ورکتون څخه تر ۱۸ کلنۍ پورې ښوونځي ته تلل وړیا دي. خو ځینې اضافي لګښتونه باید تاسو ورکړئ، لکه د خوړو لګښت او د ښوونځي سفرونه. که تاسو د دې لګښتونو په ورکړه کې ستونزه لرئ، نو کولی شئ د ښوونځي د مرستې (مالي مرسته) غوښتنه وکړئ.
په بلجیم کې ښوونځي د عمر د ډلو له مخې وېشل شوي دي:

5.1.3 د وړکتون زده کړه (له ۲.۵ تر ۵ کلونو پورې)

هغه ماشومان چې تر ۵ کلونو کم عمر لري، اړ نه دي چې وړکتون ته ولاړ شي. خو ډېرى ماشومان بيا هم وړکتون ته ځي، ځکه هلته ښه ژبه زده کوي. هغوى هلته د لاسي کارونو، رسم کولو، او يو ځاى لوبو زده کړه هم کوي... ښوونځى د ماشوم لپاره د ژبې د زده کړې تر ټولو ښه ځاى دى.

د هغه کال د سپتمبر په ۱ نېټه چې ستاسو ماشوم ۵ کلن کېږي، ماشوم بايد په اجباري ډول وړکتون ته ولاړ شي. که ستاسو ماشوم په هالنډي ژبه ښوونځي کې وي او په ۶ کلنى کې لا هم ښه هالنډي نه شي ويلاى، نو ښوونځى کولى شي پرېکړه وکړي چې ماشوم د لومړني ښوونځي پر ځاى يو بل کال هم په وړکتون کې په اجباري ډول پاتې شي.

5.1.4 لومړنى زده کړه (له ۶ تر ۱۱ کلونو پورې)

تاسو بايد خپل ماشوم هغه وخت په ښوونځي کې ثبت کړئ کله چې لومړى ځل لومړني ښوونځي ته ځي يا له يو ښوونځي څخه بل ته بدلېږي. تاسو کولى شئ پخپله د خپل ماشوم لپاره ښوونځى وټاکئ. په لومړني ښوونځي کې ۶ ټولګي وي. ستاسو ماشوم بايد هر کال ټاکل شوي د زده کړې اهداف پوره کړي ترڅو بل ټولګي ته لاړ شي.

په لومړني ښوونځي کې درسونه عبارت دي له:

- رياضي
- لوستل او ليکل
- ټولنيز پېژندنه (جغرافيه، بيولوژي، د ترافيک زده کړه...)
- بدني روزنه، چې پکې لامبو هم شامله ده

5.1.5 ثانوي زده کړه (له ۱۲ تر ۱۸ کلونو پورې)

له لومړني ښوونځي وروسته ستاسو ماشوم ثانوي ښوونځي ته ځي. تاسو بايد خپل ماشوم بيا ثبت کړئ، ځکه دا يو نوى ښوونځى وي. تاسو کولى شئ د خپل ماشوم لپاره منځنى ښوونځى پخپله وټاکئ.

په ثانوي ښوونځي کې هم ۶ ټولګي وي. په دې ښوونځي کې ځوانان د لوړو زده کړو لپاره چمتو کېږي، يا يو مسلک زده کوي.

د ثانوي زده کړو بېلابېل ډولونه شته:

- عمومي ثانوي زده کړه (ASO): ځوانان د لوړو زده کړو لپاره چمتو کوي
- هنري ثانوي زده کړه (KSO): ځوانان د هنر په برخه کې د کار لپاره چمتو کوي (لکه نڅا، تياتر، نقاشي، موسيقي...)
- تخنيکي ثانوي زده کړه (TSO): ځوانان د تخنيکي يا اقتصادي لوړو زده کړو لپاره يا د تخنيکي مسلکونو لپاره چمتو کوي، لکه برېښناکار، د نجار يا پخلى
- مسلکي ثانوي زده کړه (BSO): ځوانانو ته يو عملي مسلک ور زده کوي تر څو د کار بازار ته داخل شي

5.1.6 ځانګړې زده کړه (بهرنى/استثنايي ښوونځى)

ځينې ماشومان نشي کولاى عادي ښوونځي ته ولاړ شي:

- هغوى د زده کولو ستونزه لري
- هغوى د چلند ستونزه لري

- هغوی معلولیت لري (لید، حرکتي، ذهني یا اورېدني ستونزه)

دا ماشومان کولی شي داسي ښوونځي ته ولاړ شي چې د هغوی له اړتیاوو سره ښه برابر وي. د دي لپاره چې ماشوم په ځانګړي (استثنایي) ښوونځي کي ثبت شي، د لاندې ادارو اجازه ته اړتیا وي:

- په (Vlaanderen) کي: د زده کوونکو د لارښووني مرکز (CLB)
- په (Wallonië) کي: د رواني-طبي-تولنیزو مرکزونو (PMS)

5.1.7 لوړې زده کړې

کله چې تاسو د ثانوي زده کړو سند ترلاسه کړئ، کولی شئ خپلو زده کړو ته په پوهنتون یا د لوړو زده کړو په مؤسسه (Hogeschool) کي زده کړې ته دوام ورکړئ. لوړې زده کړې داسي ډیپلومونه ورکوي چې د کار بازار لپاره وي، لکه: ښوونکی، نرس، حسابدار...

د لوړو زده کړو د داخلي شرایط

- که تاسو په بلجیم کي د ثانوي زده کړو ډیپلوم ترلاسه کړی وي: تاسو کولی شئ مستقیماً په ښوونځي کي نوم لیکنه وکړئ.
- که تاسو د بل هېواد څخه د ثانوي یا لوړو زده کړو ډیپلوم لرئ:
  - مخکې له نوم لیکنی څخه باید له ښوونځي څخه د داخلي اجازه وغواړئ
  - باید د زده کړې د ژبې د کافي پوهې ثبوت ولرئ (هالنډي، فرانسوي یا انګلیسي)

د ډاکټر، د غاښونو ډاکټر یا د ځینو انجنیرۍ څانګو لپاره باید لومړی د داخلي ازموینه (TEST) پاس کړئ.

5.1.8 د بهرنیو ژبو زده کوونکو لپاره د چمتووالي کال

ځیني د لوړو زده کړو موسسې (د لوړو زده کړو موسسې یا پوهنتونونه) د هغو زده کوونکو لپاره د چمتووالي کال وړاندې کوي چې په بله ژبه غږیږی.

د چمتووالي کال کي لاندې درسونه شامل وي:

- د بهرنیو زده کوونکو لپاره هالنډي/فرانسوي ژبه
- د زده کړې طریقې او مېتودونه
- د زده کړو د انتخاب لپاره لارښوونه او مرسته
- انګلیسي، ریاضي او ځېرنه
- ځیني نور اختیاري درسونه چې تاسو یې انتخابولای شئ

5.1.9 لګښتونه

- که تاسو د فرعي خوندیتوب لرونکی یاست، کولی شئ د زده کړو لپاره سکالرشپ (د زده کړو مالي مرستی) غوښتنه وکړئ چې له مخې یې د خپلو زده کړو یوه برخه تادیه کولای شئ. تاسو باید د نورو زده کوونکو په پرتله د نوم لیکنې فیس کم هم ورکړئ.
-

- که تاسو د فرعي خوندیتوب لرونکی یاست او عمر مو له ۲۵ کلونو کم وي، کولی شئ د ماشومانو د مرستې (kinderbijslag) لپاره غوښتنه وکړئ. دا یو لږ مالي مبلغ دی چې ټولو ځوانانو ته د زده کړو پر مهال ورکول کېږي.

لوړې زده کړې ځلور ډوله زده کړیز پروګرامونه لري

- د ایچ بی او ۵ زده کړې: یوه لنډه عملي زده کړه
- مسلکي لیسانس : د ۲ تر ۳ کلونو پورې عملي زده کړه
- اکاډمیک لیسانس او ماسټر: داسې زده کړې چې یوازې د ماسټر له بشپړولو وروسته د کار لپاره زمینه برابروي. دا زده کړې کمې عملي او زیاتې علمي/نظري وي.

دوکتورا د ماسټر وروسته تخصصي زده کړې دي. علمي څېړنه پکې اصلي فعالیت وي.

5.2 د ډیپلوم پېژندنه

5.2.1 خپل ډیپلوم په فلاندر کې پېژندل

زما د ډیپلوم پېژندل په فلاندرن (Vlaanderen) کې
که تاسو بهرنی ډیپلوم لرئ، نو ناریک فلاندرن د بهرنیو ډیپلومونو پېژندنه کوي د هغو کسانو لپاره چې غواړي په (Vlaanderen) کې کار وکړي یا زده کړې وکړي.
په فلاندرن یا بروکسل کې د خپلو زده کړو د دوام لپاره، تاسو باید مستقیم له یو پوهنتون یا د لوړو زده کړو له موسسې (Hogeschool) سره اړیکه ونیسئ.

5.2.2 څنګه خپل ډیپلوم معادل کړی؟

تاسو کولی شئ له دوو بېلابېلو پروسیجرونو څخه یو انتخاب کړئ:

۱. **د کچې پېژندنه (NARIC)**: Niveauerkenning ستاسو د بهرني ډیپلوم د کچې په اړه پرېکړه کوي

- د دې لپاره چې په شئ ستاسو بهرنی ډیپلوم د فلاندرن د کوم تعلیمي کچې سره برابر دی (لکه: ثانوي زده کړه، لوړه مسلکي زده کړه، لیسانس یا ماسټر)
- د یوې ټاکلې دندې لپاره د غوښتنلیک (کار غوښتنې) لپاره
- کله چې په فلاندرن کې ورته لوړې زده کړې شتون ونه لري
- کله چې تاسو د خپلې زده کړې د پروګرام جزییات (درسي پلان) نور ونه لرئ

۲. **ځانګړې پېژندنه (NARIC)**: Specifieke erkenning پرېکړه کوي چې ستاسو بهرنی ډیپلوم د فلاندرن له کوم مشخص ډیپلوم سره برابر دی.

- که تاسو غواړئ په بلجیم کې یو تنظیمشوی (قانوناً تنظیم شوی) مسلک ترسره کړئ، لکه: ډاکټر، نرس، معمار، حسابدار... د دې ډول مسلک لپاره باید د مسلکي پېژندنې غوښتنه هم له یوې بلې اداري څخه وکړئ
- که تاسو غواړئ یو خوندي/محفوظ مسلکي عنوان وکاروئ، لکه: صنعتي انجنیر، تجارتي انجنیر، ملکي انجنیر، ډاکټر، د غاښونو ډاکټر، درمل جوړوونکی، معمار، قابله، ټولنیز مرستندوی

- که د يوې ځانګړې دندې لپاره د مشخص تعليمي سند پېژندنه ضروري وي
- که تاسو د دوکتورا د ډيپلوم د پېژندنې غوښتنه کوئ

5.2.3 اسناد؟

کوم اسناد چې تاسو بايد **NARIC** ته وسپارئ، دا د پروسې له ډول سره توپير لري. د ځانګړې پېژندنې لپاره د کچې پېژندنې په پرتله ډېر اسناد ته اړتيا وي.

که ستاسو اسناد په هالنډي، فرانسوي، انګليسي يا جرمني ژبه نه وي، نو تاسو بايد د هغوی ژباړه هم ورسره ضميمه کړئ.

5.2.4 لګښتونه؟

د خپل ډيپلوم د معادل (برابرۍ) غوښتنه کول وړيا دي د هغو کسانو لپاره چې د غوښتنې پر مهال:

- د نړيوال خوندیتوب غوښتونکی وي
- پېژندل شوی کډوال وي يا د فرعي خوندیتوب حالت ولري
- لوړه مالي مرسته (Verhoogde tegemoetkoming) ترلاسه کوي او دا د بيمې صندوق (Ziekenfonds) له سند سره ثابتولی شي
- د او سی ام وی ځخه د ژوند عايد (Leefloon) يا ورته ټولنيزه مرسته ترلاسه کوي
- د ادغام تړون (Inburgeringscontract) ولري چې له دري کلونو کم وخت ولري
- د کار غوښتونکی وي او د VDAB يا Actrice له خوا راستول شوی وي

د لوړو زده کړو، د بالغينو زده کړو، وړتياوو او د زده کړو د مرستو اداره – د **NARIC** دوسيې څېړنه

Consciencegebouw
Koning Albert II laan 15, 1210 Sint-Joost-ten-Node
T 1700
https://www.vlaanderen.be/ahovoks/dienstverlening/naric-vlaanderen

5.2.5 د خپل ډيپلوم پېژندنه په والونيا يا بروکسل کې

د خپل ډيپلوم پېژندنه.

که تاسو په بهر کې ډيپلوم ترلاسه کړی وي او غواړئ په والونيا يا بروکسل کې کار وکړئ، نو تاسو کولی شئ خپل ډيپلوم د پېژندنې لپاره وړاندې کړئ. د دې لپاره بايد د والونيا–بروکسل فدراسيون ځخه د خپل ډيپلوم د "برابرۍ پېژندنه (Gelijkwaardigheidserkenning) وغواړئ

د برابرۍ پېژندنه يو سند دی چې تاسو پرې ښودلی شئ چې ستاسو بهرنی ډيپلوم په بلجيم کې کوم ارزښت لري. تاسو کولی شئ له دوو ډولونو پروسيجرونو ځخه يو انتخاب کړئ:

- د کچې پېژندنه (Niveauerkenning): پدې کې دا ارزول کېږي چې ستاسو بهرنی ډيپلوم په بلجيم کې له کوم تعليمي کچې سره برابر دی (لکه ليسانس، ماسټر يا بله کچه).
- ځانګړې پېژندنه (Specifieke erkenning): پدې کې دا ارزول کېږي چې آيا ستاسو د بهرني زده کړو محتوا په بلجيم کې د ورته زده کړو سره يو شان ارزښت لري که نه

- د ډیپلوم د کچې پېژندنې (Niveauerkenning) لپاره غوښتنه د ۱۵۰ تر ۲۰۰ یورو پورې لګښت لري.
- هغه بهرنیان چې د کډوالۍ (Vluchteling) یا فرعي خوندیتوب (Gesubsidieerde bescherming) حالت ترلاسه کړی وي، د دې پروسې لپاره پیسې نه ورکوي

مخکې له دې چې پروسه پیل کړئ، غوره ده چې د والونیا–بروکسل فدراسیون (Federatie Wallonië-Brussel) سره اړیکه ونیسئ.

(http://www.equivalences.cfwb.be/)

دا پروسه کېدای شي پېچلې وي. تاسو کولی شئ د سیمې د ادغام له مرکز (په Wallonië کې) یا په بروکسل کې د **(Ciré'-associatie') ځخه هم مرسته وغواړئ**.

CIRÉ (Coordination et Initiatives pour Réfugiés et Étrangers)
Visvijverstraat 80/82
1050 Brussel
T 02 629 77 10
E-mail : cire@cire.be
www.cire.be

د والونیا په سیمه کې د سیمەییز ادغام مرکزونو بشپړ لست دلته موندل کېدای شي:

https://actionsociale.wallonie.be/home/thematiques/integration-des-personnes-d-origines-etrangeres/centre-regional-d-integration.html

6 ټولنیز امنیت (سوشیال سیکیورټي) او ټولنیزه مرسته

6.1 د OCMW ټولنیزه مرسته (ټولنیز کور)

که تاسو ته د فرعي محافظت حالت درکړل شوی وي او لا تر اوسه عاید نه لری چې وکولای شئ کور په کرایه واخلئ او د خپل ژوند لګښتونه برابر کړئ، نو تاسو کولی شئ د **OCMW** ځخه مرسته وغواړئ.

6.2 څوک د OCMW له خوا ټولنیزه مرسته ترلاسه کوي؟

د **OCMW** ځخه د ټولنیزې مرستې ترلاسه کولو لپاره باید لاندې شرایط پوره کړئ:

- تاسو باید په بلجیم کې په قانوني ډول واوسېږئ (لکه منل شوی کډوال، د فرعي محافظت لرونکی، او نور).
- تاسو باید په کافي اندازه د ژوند وسایل/عاید ونه لرئ. او سی ام وی به ستاسو وضعیت او عاید وڅېړي.
- تاسو باید په بلجیم کې د اوسېدو ځای ولرئ.

- OCMW کولای شي نور شرایط هم ولري: باید کار کولو ته چمتو اوسئ، او لومړی هغه نوري ټولنیزي مرستي یا عاید چې تاسو یې حق لرئ، باید غوښتنه وکړئ.....

OCMW څه مرسته کوي؟

OCMW ستاسو لپاره دا څېړي چې تاسو ته کوم ډول مرسته تر ټولو مناسبه ده.

- مالي مرسته (میاشتنی د ژوند تیرولو مرستي معاش یا تکمیلي مرسته که ستاسو عاید د ژوند کولو مرستي له معاش څخه کم وي)
- استوګنځی یا د استوګنځي په موندلو کي مرسته
- د کور وسایلو لپاره (د فرنیچر او د کور وسایلو د اخیستلو لپاره مرسته)
- د طبي درملنې د لګښتونو په ورکولو کي مرسته
- د کار موندلو کي مرسته
- د پورونو د تادیې په برخه کي مرسته (د پورونو منځګړیتوب)
- روانې-ټولنیزه مرسته

که تاسو ټولنیزي مرستي ته اړتیا لرئ، نو د هغه ښاروالۍ **OCMW** ته ورشئ چې تاسو پکې اوسېږئ.

7 روغتیا پالنه

7.1 د ناروغۍ بیمه

د ناروغۍ بیمه

په بلجیم کي د ناروغۍ بیمه اخیستل اجباري دي. که تاسو ناروغ شئ، د بیمې صندوق (Ziekenfonds) د طبي لګښتونو لویه برخه ورکوي. که د ناروغۍ یا حادثې له امله کار نشئ کولای، نو تاسو ته د معاش پر ځای مالي مرسته درکول کېږي.

که تاسو د فرعي خوندیتوب (subsidiair beschermde) لرئ، باید د خپلې خوښې له مخې د یو رسمي منل شوي بیمې صندوق سره ځان ثبت کړئ. که نه غواړئ د بیمې صندوق غړی شئ، نو کولی شئ په وړیا ډول د 'Hulpkas voor Ziekte- en Invaliditeitsverzekering' سره ثبت شئ.

د ناروغۍ بیمې صندوق (Ziekenfonds) ستاسو لپاره څه کوي؟

د ناروغۍ بیمې صندوق

- د طبي درملنې لګښتونه ورکوي
- که تاسو د ناروغۍ یا حادثې له امله کار نه شئ کولای، مالي مرسته درکوي
- د امیندوارۍ رخصتۍ (د ماشوم له زېږون وروسته) پر مهال مالي مرسته ورکوي
- د کورنۍ پاملرنې خدمتونه تنظیموي (د ماشومانو او زړو کسانو لپاره مرسته)
- د ناروغانو د کورنۍ پاملرنې لپاره طبي وسایل په پور ورکوي

د ناروغۍ بیمه څومره لګښت لري؟

که تاسو ځان ثبت کړئ، نو باید هر کال یو ټاکلی فیس ورکړئ (شاوخوا د ۸۰ او ۱۱۰ یورو ترمنځ). د ماشومانو یا نورو کسانو لپاره چې ستاسو تر سرپرستۍ لاندې وي، د ناروغۍ بیمه وړیا ده.

د ناروغۍ کومې بیمې صندوقونه شتون لري؟

Christelijke mutualiteit, Liberale mutualiteit, Socialistische mutualiteit, Onafhankelijk ziekenfonds, Neutraal ziekenfonds. Op de website van het RIZIV (Rijksinstituut voor ziekte- en invaliditeitsverzekering) vindt u een overzicht van alle ziekenfondsen: https://www.riziv.fgov.be/nl/professionals/andere-professionals/ziekenfondsen/contacteer-de-ziekenfondsen

7.2 د ماشومانو روغتیا

ستاسو د ماشوم یا وړوکي ماشوم روغتیا

په بلجیم کې یو وړیا خدمت موجود دی چې د ۳ کلونو څخه کم عمره د ټولو ماشومانو روغتیا تعقیبوي. تاسو کولای شئ هلته د امیندوارۍ، د ماشوم د ودې او روزنې په اړه هم پوښتنې وکړئ.
تاسو کولی شئ خپل ماشوم (د ۰ میاشتو څخه تر ۳ کلونو پورې) په وړیا ډول د مشورې لپاره د **kinderbijslag** Vlaanderenn)او Brussels) یا ون (Wallonië او Brussels) په دفترونو کې ورشئ. دا د مشورې مرکزونه د امیندوارۍ پر مهال هم ستاسو سره مرسته کوي او لارښوونه درکوي.

Kind & Gezin
T 078 150 100
https://www.kindengezin.be/nl/contact

l'Office de la Naissance et de l'Enfance (ONE)
T 02 542 12 11
https://www.one.be/public/contact/

د مشورې پر مهال څه کیږي؟

- رضاکاران ستاسو د ماشوم قد او وزن اندازه کوي.
- یو ډاکټر یا نرس ستاسو ماشوم معاینه کوي.
- د زیږون وروسته په لومړیو اونیو کې نرسان ګوري چې ستاسو ماشوم ښه اوري او که نه.
- د ۱۲ او ۲۴ میاشتو ترمنځ ډاکټران یا نرسان ګوري چې ستاسو ماشوم ښه ویني او که نه.
- ستاسو ماشوم ته اړین واکسینونه ورکول کیږي.
- تاسو کولی شئ د خوړو، روزنې، خوندیتوب او روغتیا په اړه پوښتنې وکړئ.

ناروغ؟

کله چې ستاسو ماشوم ناروغ وي، نو باید کورنۍ ډاکټر ته ورشئ نه روغتیائي مرکز ته.

8 استوګنځی

د کورموندلو لټون
کله چې تاسو ته د فرعي خوندیتوب حیثیت درکړل شي، تاسو ۲ میاشتې وخت لرئ چې خپل شخصي کور وموميئ. د دې مودې وروسته باید د استوګنې مرکز یا د OCMW کور پرېږدئ.

که تاسو د ۲ میاشتو وروسته هم کور نه وي موندلی، نو **Fedasil** کولی شي دا موده حد اکثر ۴ میاشتو پورې وغځوي.

خپل اسناد برابر کړئ

- مخکې له دې چې تاسو د خپل کور په لټه کې شئ، خپل ټول اسناد آماده کړئ
- برېښنايي پېژندپاڼه ((A
- بانکي حساب او بانکي کارت
- د روغتيا بيمه

تاسو دې اسنادو ته اړتيا لرئ څو د کرايي تړون لاسليک کړئ.

تاسو کومه اندازه کرايه ورکولی شئ؟

د کور د کرايي لپاره شاوخوا د خپل عايد ۳/۱ برخه وکاروئ. هېڅکله د خپل عايد له نيمايي څخه زيات د کرايي لپاره مه لګوئ.

د کور لټون

تاسو کولی شئ په لاندی ډول يو کور ولټوئ:

- په خصوصي بازار کې: د املاکو د دفتر له لارې يا د ملګرو، پېژندګلوی کسانو يا رضاکارانو په مرسته چې تاسو سره په لټون کې مرسته کوي.
- په ټولنيز بازار کې: د ټولنيز کرايي دفتر (SVK) يا د ټولنيز کور جوړونې اداره (SHM) هغو کسانو ته کورونه برابروي چې کور ته اړتيا لري.

  د ټولنيز کور کرايه کولو لپاره، تاسو بايد د کور جوړونې ټولنې ته درخواست ورکړئ. که تاسو د استوګنې، عمر، عايد، او ملکيت په اړه شرايط پوره کړی ، نو ټولنه به تاسو راجستر کې ثبت کړي. لاندی به تاسو په فلانډرن کې د کور جوړونې اتحاديو لنډيز وموميئ.
- https://www.vlaanderen.be/wonen-in-vlaanderen/zoek-een-woonmaatschappij?order_identifier=desc

د ليدنې پر مهال وګورئ چې کور په ښه حالت کې دی که نه. آيا ځای کافي لوی دی؟ آيا د نم نښې شته؟ آيا د اوبو، تودوخې او برېښنا اسانتياوې موجودې دي؟ آيا دا کور ستاسو د کورنۍ لپاره يو خوندي ځای دی؟

کرايه ورکوونکی او تاسو (کرايه اخيستونکی) بايد په ګډه د کرايي تړون لاسليک کړئ. کرايه ورکوونکی له کرايه اخيستونکي څخه يو ځل د کرايي ضمانت يا پېشکی پيسی هم غواړي. د کرايي ضمانت عموماً د ۱ تر ۳ مياشتو ترمنځ کرايه وي. تاسو کولی شئ له او سی ام وی څخه وغواړئ چې د کرايي ضمانت درکړي، خو تاسو بايد دا پيسې وروسته بېرته ورکړئ.

د کور د لټون لپاره ويب سايټونه

- https://www.immoweb.be
- https://www.zimmo.be
- https://immovlan.be
- https://www.realo.be
- https://www.immoscoop.be
- https://www.2dehands.be/cp/1032/immo/

9 ادغام

9.1 د ادغام کورس

د ادغام درسونه

ایا غواړئ په بلجیم کې ځان په کور کې احساس کړئ لکه خپل هیواد کې چې یاست او دغه هیواد ښه وپیژنئ؟ خپلې سیمې کې د ټولنې پیژندنې کورس او ژبې درسونه تعقیب کړئ. که تاسو په بلجیم کې نوی یاست یا له مخکې نه دلته اوسیږئ، کولی شئ د ادغام پروګرام په خپله مورنۍ ژبه یا په هغه ژبه کې تعقیب کړئ چې تاسو پرې پوهیږئ.

د چا لپاره؟

هغو ټولو بهرنیانو ته چې په بلجیم کې په قانوني توګه د استوګنې اجازه لري

- رسمي پیژندل شوي کډوال او هغه کسان چې فرعي/ثانوي خوندیتوب لري

تاسو څه زده کوئ؟

د ادغام پروګرام له لاندې برخو څخه جوړ دی:

په بلجیم کې د ژوند په اړه کورس (کار، استوګنځی، زده‌کړې، ستاسو حقوق او دندې)
د کار او مسلک د موندلو لپاره لارښوونه
د سپورت، کلتور او ازاد وخت په اړه معلومات

په خپلې سیمې کې د ادغام درسونو لپاره نوم لیکنه وکړئ.

ادغام په فلاندرز کې:
د ادغام او ټولنیز ګډون اداره

https://www.integratie-inburgering.be/nl/contact/contactpunten

ادغام په والونیا کې:

https://actionsociale.wallonie.be/home/thematiques/integration-des-personnes-d-origines-etrangeres/centre-regional-d-integration.html

ادغام په بروکسل کې:

https://bewelcome.brussels

ادغام په انټورپن کې:

https://www.atlas-antwerpen.be/nl

ادغام په ګینټ کې:
https://www.amal.gent/
ادغام په جرمني ژبې ټولنه کې
https://info-integration.be/integrationsparcours/

برسېره پر دي، هغه کسان چې فرعي محافظت لري هم کولی شي د (Caritas International)څخه د خپلو اداري پروسو او د ادغام (integration) په بهیر کې مرسته ترلاسه کړي. د دوی هدف ډېری هغه زیانمن کډوال دي، چې د خپلواکې ژوند پر لور د تګ په بهیر کې ورسره باید مرسته وشی.

Liefdadidgheidstraat 43
1210 Brussel
T 02 229 36 11
https://www.caritasinternational.be/nl/contact/

9.2. د ژبې درسونه

د دې لپاره چې په بلجیم کې کار وکړئ، زده کړه وکړئ او له خلکو سره اړیکه ټینګه کړئ، تاسو باید ژبه زده کړئ. په بلجیم کې تاسو کولی شئ د هالنډي (Nederlands) یا فرانسوي ژبې کورسونه تعقیب کړئ، چې د هغو نوو راغلو کسانو لپاره جوړ شوي دي چې بله ژبه لري.

په بلجیم کې خلک هالنډي یا فرانسوي خبرې کوي. دا دې پورې اړه لري چې تاسو چېرې اوسېږي. د هېواد په یوه کوچنۍ برخه کې د لیږ ولایت خلک جرمني ژبه هم خبرې کوي.

ټول ماشومان چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي، په ښوونځي کې هالنډي، فرانسوي یا جرمني ژبه زده کوي. لویان کولی شي د ژبې په کورس کې ځان ثبت کړي.

په فلاندر کې د هالنډي ژبې د درس لپاره نوم لیکنه د (Agentschap Inburgering & integratie) له لارې کېدای شي.
https://integratie-inburgering.be/nederlands-leren

په بروکسل کې د هالنډي ژبې د درس لپاره نوم لیکنه د(Agentschap Integratie & Inburgering) له لارې کېدای شي.
https://integratie-inburgering.be/nederlands-leren

په بروکسل یا والونیا کې د فرانسوي ژبې د درس لپاره نوم لیکنه د (CIRÉ)له لارې کېدای شي.
https://www.cire.be/nos-activites/ecole-de-francais/

یا د (Bruxelles Formation) له لارې.
https://www.bruxellesformation.brussels/nous-contacter/

په والونیا کې د فرانسوي ژبې د درس لپاره د سیمه ییزو ادغام مرکزونو څخه معلومات واخلئ.

https://actionsociale.wallonie.be/home/thematiques/integration-des-personnes-d-origines-etrangeres/centre-regional-d-integration.html

10 د بې سرپرسته کم‌عمره بهرنیو ماشومانو ځانګړي حقونه

کله چې یو بې‌سرپرسته کم‌عمره بهرنی ماشوم (NBMV) ته د فرعي محافظت وضعیت ورکړل شي، د سرپرستی سیستم تر هغه وخته پورې دوام کوي څو چې دغه کم‌عمره کس لا تر ۱۸ کلنۍ نه وي رسېدلی.
د سرپرستی د قانون له مخې، کله چې یو بې‌سرپرسته کم‌عمره بهرنی ماشوم (NBMV 2X) د بالغ کېدو عمر ته ورسېږي، هغه د( ) حیثیت له لاسه ورکوي او د سرپرست دنده هم پای ته رسېږي. نو سرپرست نور د هغه په حقوقي او اداري پروسو کې استازیتوب نه کوي. خو ډېرې وخت سرپرست او ځوان بیا هم په اړیکه کې پاتې کېږي او سرپرست د ځوان ملاتړ ته دوام ورکوي.
په هغه صورت کې چې له خپل سرپرست سره مو شخړه رامنځته شي، لومړی د سرپرستی له خدماتودفتر سره اړیکه ونیسئ. که شخړه جدي وي، نو د سولې قاضي به مداخله وکړي.

د سولې قاضي کولی شي یوازې هغه وخت له سرپرست څخه د هغه دنده واخلي، کله چې هغه په خپله دنده کې ناغېږي کړي وی یا له کم عمر ماشوم سره جدي اختلافات رامنځته شوی وی.

د بې‌سرپرسته کم عمره بهرني ماشوم والدین کولی شي له هغه سره یوځای شي، په هغه صورت کې چې د والدینو سره د خپلولۍ ثبوت وړاندې شي. د پروسې په اړه نور معلومات د ۳.۲ فصل د کورنۍ یوځای کېدلو برخه کې موندل کېدای شي.

هغه بې سرپرسته کم عمره بهرنی ماشوم چې د فرعي محافظت حیثیت لري، د ټولنیز مالي مرستې حق لري. د دې لپاره د خپلې اوسېدو سیمې له OCMW سره اړیکه ونیسئ. کله چې تاسو د فرعي محافظت حیثیت لرئ او عمر مو له ۱۶ کلونو پورته وي، تاسو کولی شئ د ځارل شوي اوسېدو غوښتنه وکړئ. کله چې تاسو ۱۸ کلن شئ او د استوګنې اجازه ولرئ، تاسو کولی شئ یوازې ژوند وکړئ. دا امکانات له خپل (پخواني) سرپرست او/یا لارښود سره یوځای وڅېړئ.

FOD JUSTITIE – Dienst Voogdij
Waterloolaan 115
1000 Brussel
T 0 78 15 43 24
e-mail: voogdij@just.fgov.be
https://justitie.belgium.be/nl/dienstvoogdij

The Office of the Commissioner General for Refugees and Stateless Persons (CGVS-CGRA)

د کډوالو او بې‌تابعیته کسانو عمومي کمپساری

www.cgvs.be

www.asyluminbelgium.be

Ernest Blerotstraat, 39
1070 BRUSSEL
België